# تابش پوهنتون

## محصلانو چارو معاونیت

# د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون تګلاره

کال:۱۴۰۴

# فهرست


مقدمه ........ 3

د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون پالیسۍ لنډ اهداف: ........ 3

لومړی فصل(د برحاله محصلینو حقوق او ګډون) ........ 4

د برحاله محصلینو د حقوقو خوندیتوب او ملاتړ څرنګوالی ........ 4

۱: د محصلینو شکایت او غوښتنو اوریدل ........ 4

۲ :د لګښت پرته په لنډمهاله روزنیزو برنامو کې ګډون ........ 4

۳: د محصلینو سره مالي مرستې ........ 4

۴: بهرنیو ادارو ته محصلین د عملي کارونو لپاره معرفي کول ........ 4

۵: د محصلینو فزیکي روزنه او ورزشي ملاتړ ........ 5

٦: د محصلینو لپاره د مشورې ورکولو مرکز ........ 5

۷: محصلینو معیاري زده کړو او مسلکي روزنې لپاره اسانتیاوې ........ 5

۸: حقوقي کلینک: ........ 6

۹: د ممتازو محصلینو حقوق ........ 6

۱۰: د ورزشي فعالیتونو لپاره تفاهم لیکونه: ........ 6

دویم فصل( د برحاله محصلینو استازیتوب) ........ 7

۱: محصلانو کمېټه کې استازیتوب: ........ 7

۲: نظم او دسپلین کمېټه کې استازیتوب: ........ 7

۳: فرهنګي چارو کمېټه کې استازیتوب: ........ 7

۴: د پوهنځیو په کچه د فارغانو شبکه کې استازیتوب: ........ 8

۵: د پوهنځي په کچه د محصلانو کمېټه کې استازیتوب ........ 8

٦: ستراتیژیک پلان کمېټه کې استازیتوب: ........ 8

دریم فصل( د فارغو محصلینو د حقوقو ملاتړ) ........ 9

د فارغانو د حقوقو څرنګوالی ........ 9

۱: د کار موندنې یا نورو لوړو زده کړو لپاره د څانګړو مکتوبونو او تصدیقونو ورکول. ........ 9

۲: بهرنیو ادارو ته د محصل په هکله معلومات ورکول ........ 9

۳: د کارموندنې په صورت کې محصلین خبرول: ........ 9

۴ : محصلینو ته په لنډ مهاله روزنیزو برنامو کې د ګډون اجازه ورکول ........ 9

۵: فارغو محصلینو ته مشورې ورکول ........ 9

تائیدي او تصویب: ........ 10

**مقدمه**

محصـــلین د پوهنتون هغه مهمه کتله ده چې د همدې قشرــ د خدمت لپاره د اداري ټول بنســـتیز امکانات او منابع فزیکي، بشري، مالي او تکنالوژيکي په کار اچول شوي دي. محصلین هغه قشر دی چې د پوهنتون له خدماتو څخه په مستقیم ډول ګټه اخلي، له همدې امله د دوی حقوقو، رضایت او د روښانه راتلونکي تضمین کول ځانګړی اهمیت لري.

تابش پوهنتون تل هڅه کوي چې د نافذه قوانینو په رڼا کې د خپلو محصـــلینو حقوق تامین کړي او د دوی د تحصـــیلي او مسلکي پرمختګ لپاره هر اړخیز ګامونه واخلي او د تضمین کیفیت د ۸،۲،۱ معیار په اساس دغه پالیسي ترتیب شوي ترڅو د محصلینو حقوق خوندي شي.

د محصلینو د حقوقو لپاره تر ټولو مهمه لاره دا ده چې هغوی ته معیاري او عصري درسي نصاب برابر او تدریس شي؛ استادان باید د درسي مهالویش مطابق، محصل‌محوره تدریس ته ژمن واوسي او غیر حاضري ونه لري؛ د اســتادانو او اداري له لورې له محصلینو سره تبعیضي چلند ونه شي؛ د ارزونو پروسه باید عادلانه وي؛ قانوني غوښتنې یې پر خپل وخت پوره شي؛ ستونزو ته یې په جدي توګه رسیدنه وشي؛ او د محصلینو نظرونه واورېدل شي.

همداراز، د محصلینو مهارتونو لوړولو لپاره باید زیات شمېر نصابي او غیري‌نصابي فعالیتونه ترسره شي. تابش پوهنتون دا ډول فعالیتونه د خپل رسالت په توګه په دوامدار ډول ترسره کوي، او د دې چارو د پراختیا او کیفیت د لوړوالي لپاره بې‌وقفې هڅې کوي.

تر دې سربېره، پوهنتون هڅه کوي چې هغه خدمات چې د محصـــلینو په حقوقوکې کلیدي رول لري، او ممکن د ټولګي دننه نه وي وړاندې کېدونکي، په منظم ډول تطبیق شي، ارزونه یې وشي، او د اړتیا سره سم نوي اقدامات رامنځته شي.

د برحاله او فارغو محصـــلینو د رضـــایت لوړول او د زده‌کړو اړتیاوو پوره کول د پوهنتون لپاره ځانګړی ارزښـــت لري. پوهنتون غواړي د نوو، ابتکاري، او محصل‌محوره تګلارو له لارې خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

دا پالیسي د برحاله او فارغو محصلینو د حقوق ټول اړوند موارد رانغاړي، او د پوهنتون مسؤلې برخې به تل هڅه کوي چې یاد شوي فعالیتونه پر خپل وخت تطبیق کړي او اړوند اسناد ثبت او خوندي وساتي.

## د محصلینو د حقوقو، استازیتوب او ګډون پالیسۍ لنډ اهداف:

1. د برحاله محصلینو علمي، فکري او ټولنیز روزنه، څو په کاري او ټولنیز چاپېریال کې مثبت رول ولوبوي.
2. د فارغو محصلینو لپاره د کارموندنې چمتووالی او اړوندو مهارتونو لوړول.
3. د محصلینو ترمنځ سالم رقابت ته وده ورکول، د ممتازو محصلینو ستاینه او د نوښتونو ملاتړ.
4. د مالي مرستو، تخفیفونو او اسانتیاوو برابرول د زده‌کړو د دوام لپاره.
5. د عملي زده‌کړو، انټرنشیپونو، او بهرنیو ادارو سره د همکارۍ پراختیا.
6. د محصلینو فعال ګډون تضمینول د شوراګانو او کمېټو له لارې.
7. د فارغانو شبکه فعاله ساتل او د هغوی مسلکي ملاتړ ته دوام ورکول.
8. د مشورې ورکونې، رواني ملاتړ، او مهارتونو لوړونې مرکزونه فعال ساتل.

## لومړی فصل(د برحاله محصلینو حقوق او ګډون)

### د برحاله محصلینو د حقوقو خوندیتوب او ملاتړ څرنګوالی

تابش پوهنتون دبرحاله محصلینو دحقوقو ملاتړ لپاره ګڼ خدمات وړاندې کوي د یادو خدماتو ډلبندي په لاندې ډول ده.

**۱: د محصلینو شکایت او غوښتنو اوریدل**

دپنځه ګونو پوهنځیو محصلین په پوهنځي او د پوهنتون په نورو اداری واحدا تو باندی د شکایت او خپلي مشروع غوښتني او د قانوني اجراء اتو لپاره د عرایضو وړاندي کولو حق لري ، د پوهنتون په کچه د شکایاتو صندوق په مرسته د

معلوم تائید شوي طرز العمل په رڼا کي خیلي مشروع غوښتني اداري سره د شریکولي شي.

**۲ :د لګښت پرته په لنډمهاله روزنیزو برنامو کې ګډون**

1. د پوهنځي یا د مسلکي پرمختیا مرکز لهٔخوا تنظیمېدونکو روزنیزو برنامو کې ګډون.
2. د پوهنتون لهٔخوا جوړېدونکو ورکشاپونو کې ګډون کول.
3. په علمي سیمینارونو کې ګډون.
4. د لنډمهاله کورسونو د زده‌کړې فرصت درلودل.
5. په پوهنتون‌شمولو برنامو کې د فیس پرته د ګډون حق.
6. د محصلینو د ظرفیت لوړولو په موخه، د مسلکي پرمختیا مرکز لهٔخوا برابرېدونکو شپږمیاشتنیو او کلنیو برنامو کې د ګډون لپاره ۵۰ سلنه عمومي تخفیف ترلاسه کول.
7. د ټولو پوهنځیو محصلین اړ دي چې د خپل مسلک اړوند عملي زده‌کړې تر سره کړي، څو له فراغت وروسته د کارموندنې په برخه کې لازمې لاربښوونې ترلاسه کړي.
8. **8.** د اړوند سافټویرونو د کارونې بې لګښته برنامی هغه فعالیت دی چې پوهنتون یې د یادو محصلینو د حقوقو په موخه تر سره کوي، کومې روزنیزې برنامې چې د ډېرې مودې لپاره وړاندې کیږي د یادو برنامو په یوض کې له محصلینو
9. **9.** څخه ۵۰ سلنه عمومي تخفیف د محصلینو د ملاتړ په موخه تر لاسه کیږي.

**۳: د محصلینو سره مالي مرستې**

1: له بېوزله محصلینو سره مالي مرسته؛ په ځانګړي ډول د فیس په اندازه کې تخفیف ورکول.

2: د محصلینو لپاره د سپانسرانو موندنه، ترڅو د هغوی مالي اړتیاوې پوره شي.

3: ممتازو محصلینو ته د سکالرشیپونو (تحصیلي بورسونو) ورکول، څو د هغوی تحصیلي هڅې وهڅول شي.

4: دا ټولې هڅې د دې لپاره ترسره کېږي چې پوهنتون وکولای شي د خپلو محصلینو مالي ملاتړ وکړي.

5: تابش پوهنتون یو شمېر برحاله محصلینو ته د پوهنتون دننه د کار زمینه برابروي، چې له لارې یې، محصلین کولی شي عملي تجربه ترلاسه کړي او خپلې مسلکي وړتیاوې وده ورکړي؛

**۴: بهرنیو ادارو ته محصلین د عملي کارونو لپاره معرفي کول**

تابش پوهنتون د خپلو پنځو پوهنځیو د شپږ ډیپارټمنتونو برحاله محصلین اړوندو ادارو ته د عملي او مسلکي زده‌کړو لپاره د کارموندنې مرکز له لوري رسماً معرفي کوي. دا خدمات عموماً هغو محصلینو ته ځانګړي شوي وي چې د لسانس دورې په وروستیو دوو سمسترونو کې شامل وي یا له دې ښکته سمسترونو کې په زده کړو بوخت وي او د پوهنتون د دسپلیني اصولو خلاف کړنو مرتکب شوي نه وي.

د عملي زده کړو د دې پروسې د پلي کېدو لپاره، تابش پوهنتون له يو شمېر اړوندو ادارو سره تفاهم‌ليکونه (MoUs) لاسليک کړي دي. همداراز، پوهنتون هڅه کوي چې د علمي توأميتونو د پراختيا له لارې، له نورو اړوندو بنسټونو سره متقابلې همکارۍ پراخې کړي.

**۵: د محصلينو فزيکي روزنه او ورزشي ملاتړ**

د فکري او علمي روزنې تر څنګ، د محصلينو فزيکي سالميت او روغتيا ته پاملرنه د تابش پوهنتون د سپورټ کمېټې له مهمو اهدافو څخه ده.

تابش پوهنتون کې د بدني روزنې او سپورت ځانګړې مديريت فعاليت لري، چې هدف يې د محصلينو د ورزشي فعاليتونو لپاره لازم تجهيزات او امکانات برابرول دي. دغه کمېټه د ورزش او بدني روزنې په برخه کې د محصلينو له هر ډول نوښتونو او ابتکاراتو ملاتړ کوي، ترڅو:

- د محصلينو فزيکي سلامتي ته وده ورکړل شي،
- د سالم ژوند سبک ترويج شي،
- او د ذهني او بدني توازن له لارې د هغوی علمي لاسته‌راوړنې لا زياتې شي.
- د پوهنتون ټول ورزشي فعاليتونه د همدې موخې لپاره تنظيمېږي او پلي کېږي.

**٦: د محصلينو لپاره د مشورې ورکولو مرکز**

تابش پوهنتون د محصلانو چارو معاونيت تر چتر لاندې د مشوره ورکونې مرکز لري چې د محصلينو د علمي، مسلکي او شخصي ملاتړ په موخه د مشوره ورکولو او کارموندنې ځانګړی مرکز جوړ کړی دی. دا مرکز د محصلينو لپاره لاندې مهم فعاليتونه ترسره کوي:

1. د اغېزناکې زده‌کړې، وخت مديريت، او مطالعې مهارتونو په اړه مشورې ورکول؛
2. د شخصيت جوړونې، مسلکي مهارتونو لوړونې، او راتلونکي مسلکي ژوند لپاره چمتووالي برخو کې ملاتړ؛
3. د رواني، عاطفي يا شخصي ستونزو پر حل تمرکز، چې کولای شي د زده‌کړو پر کيفيت منفي اغېز ولري؛
4. د کارموندنې فرصتونو موندلو لپاره لارښوونې، رزومه ليکلو، مرکو ته چمتووالي، او د بازار د اړتياوو پر بنسټ مهارتونو وړاندې کول؛
5. له ملي او خصوصي ادارو سره د اړيکو جوړول، تر څو فارغينو ته د کار زمينه برابره شي.

دا مرکز هڅه کوي چې محصلين نه يوازې علمي بريا ته ورسوي، بلکې هغوی د مسلکي ژوند لپاره هم چمتو کړي

**۷: محصلينو معياري زده کړو او مسلکي روزنې لپاره اسانتياوې**

تابش پوهنتون ژمن دی چې د خپلو ټولو پوهنځيو د محصلينو د زده‌کړيزو اړتياوو پوره کولو او مسلکي روزنې لپاره لازمې اسانتياوې برابرې کړي. دغه اسانتياوې په ځانګړي ډول لاندې برخو کې شتون لري:

**کتابتون:** د پوهنتون کتابتون د ټولو پوهنځيو محصلينو ته د دوی د درسي نصاب اړوند چاپي او برېښنايي کتابونه وړاندې کوي.

محصلين کولی شي له انلاين کتابتونونو، څېړنيزو مقالو او نورو معتبر علمي سرچينو څخه هم استفاده وکړي.

**انټرنټي اسانتياوې**.: په کتابتون کې يو ځل ۱۰ تنه محصلين کولی شي له چټک انټرنټ څخه استفاده وکړي او اړوند علمي موادو ته لاس‌رسی ومومي

**ديجيتلي موادو ته لاس‌رسی:** محصلين کولی شي د خپلې اړتيا مطابق درسي کتابونه او څېړنيزې مقالې په سافټ (برېښنايي) بڼه ترلاسه کړي.

**کمپيوټر ليب:** د محصلينو عملي او مسلکي زده کړو لپاره مجهز کمپيوټر ليب چې په انټرنټ او اړوندو سافټويرونو سمبال دی او په يو وخت کې د څلويښتو محصلينو د ناستې ظرفيت لري.

**۸: حقوقي کلینک:**

د شرعیات پوهنځي فقه او قانون د حقوقو پوهنځي قضاء او څارنوالی دیپارتمنټونو محصلینو د عملي کارونو او مسلکي روزنې لپاره په پوهنتون کې د داسې فعال حقوقی کلینک شتون چې د محصلینو د زده کړو تر څنګ د مدافع وکیلانو لخوا د ټولني بي بضاعته او نادارو وګړو ته حقوقي مرستې وړاندې کوي موجود دی.

**۹: د ممتازو محصلینو حقوق**

ممتاز محصلین د پوهنتون د علمی او فرهنګي پرمختګ مهمه برخه جوړوي، او د هغوی د هڅو او لاسته راوړنو درناوی د پوهنتون له اړخه یوه مهمه ژمنه ده. د ممتازو محصلینو حقونه او امتیازات په لاندې ډول دي:

۱ .په تحصیلي برخو کې د امکان په صورت کې ځانګړي تخفیفونه او مرستې ترلاسه کول.

۲ .په مختلفو علمی، فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو کې لومړیتوب لرل او په ځانګړو پروګرامونو کې ګډون.

۳ .د پوهنتون لخوا د ستاینلیکونو، تقدیرنامو او انعامونو ترلاسه کول.

۴ .د تخصصي ورکشاپونو، سیمینارونو او روزنیزو برنامو کې وړیا یا ځانګړی ګډون.

۵ .د بورسونو او مالي مرستو لپاره ترجیح ورکول.

٦ .د پوهنتون په کچه د مختلفو شوراګانو او کمېټو کې د استازیتوب فرصتونه.

۷ .د فارغانو د شبکې له لارې د کاري فرصتونو په برخه کې مرسته او لارښوونه.

۸ .د علمی څېړنو او پروژو کې د ګډون لپاره اسانتیاوې او ملاتړ.

**۱۰: د ورزشي فعالیتونو لپاره تفاهم لیکونه:**

د تابش پوهنتون محصلینو سپورتي فعالیتونو لپاره ځینو میدانونو سره تفاهم لیکونه لري ترڅو د محصلینو ورزشي فعالیتونه پکې تنظیم کړي.

## دویم فصل( د برحاله محصلینو استازیتوب)

تابش پوهنتون د لوړ کیفیت لرونکي زده‌کړو، مؤثرې ادارې، او د محصـــل‌محور تعلیمي نظام د پیاوړتیا په موخه ژمن دی. پوهنتون هڅه کوي چې خپلې ټاکل شوې ستراتیژیکې موخې د تضمین کیفیت (Quality Assurance) د ۱۱ اصلي او ۴۰ فرعي معیارونو پر بنسټ ترلاسه کړي.

د همدې موخو د تحقق لپاره، د پوهنتون ټول ورځني، میاشـــتني او کلني فعالیتونه د یادو معیارونو له غوښـــتنو سره ســـم پلانېږي، تنظیمېږي او عملي کېږي. دا بهیر نه یوازې د علمي معیارونو د لوړولو ســـبب کېږي، بلکې پوهنتون ته دا زمینه برابروي چې د ملي او نړیوالو کیفیتي غوښتنو سره همغږې او هم‌لاري شي.

### ۱: محصلانو کمېټه کې استازیتوب:

د کیفیت تضـمین د ۸،۲،۱ معیار او پوهنتون د اصـولو پر بنسـټ، او د محصـلینو د فعال ګډون د تأمین په موخه، پوهنتون د محصلانو کمېټه رامنځته کړې. پوهنتون به د محصلانو د کمېټې، لارښوود استادانو د نا ستو، سروې‌ګانو او نورو مؤثرو لارو له لارې د محصـــلینو نظریات، تجربې، غوښـــتنې او مشـــورې راټولوي، او له هغوی څخه به د مثبتو بدلونونو د رامنځته کولو او د خدماتو د لا ښه‌والي لپاره استفاده کوي او بیرته د ترسره شوو اقداماتو راپور یادې کمېټې سره شریکوي.

### ۲: نظم او دسپلین کمېټه کې استازیتوب:

د نظم او دسپلین کمېټه د پوهنتون د تحصیلي چاپېریال د سالمې فضا د ساتلو او د محصلینو د انضباط د ښه والي لپاره یو مهم بنســـټ ګڼل کېږي. په دې کمېټه کې د هر پوهنځي څخه یو تن محصــــل د نماینده په توګه ټاکل کېږي ترڅو د خپل پوهنځي غږ د کمېټې په غونډو کې په مؤثره توګه وړاندې کړي.

دا اسـتازي د نظم او دسـپلین اړوند مسـایلو په اړه د خپلو پوهنځیو نظریات، سـتونزې او وړاندیزونه کمېټې ته رسـوي او له دې لارې د پوهنتون د انضباطي مقرراتو د پیاوړتیا او د محصلینو د اخلاقي او مسلکي چلند د ښه‌والي لپاره همکاري کوي.

په دې توګه، اسـتازي نه یوازې د محصـلینو سـتونزې او اندېښـنې مطرح کوي، بلکې د حل لارې چارې هم وړاندې کوي او د پوهنتون د ادارې او محصـــلینو ترمنځ د اړیکو پل جوړوي. دا کمېټه د پوهنتون په ټولیزه کچه د نظم، مســـئولیت‌پذیری، او مثبتې تحصیلي فضا د رامنځته کولو لپاره حیاتي رول لوبوي.

### ۳: فرهنګي چارو کمېټه کې استازیتوب:

فرهنګي چارو کمېټه د پوهنتون په تحصـــیلي چاپېریال کې د فرهنګي فعالیتونو د تنظیم، ودې او پراختیا لپاره بنســـټیزه ونډه لري. په دې کمېټه کې د هر پوهنځي څخه یو تن محصـــل د نماینده په توګه د یو کال مودې لپاره ټاکل کېږي، څو د خپل پوهنځي فرهنګي نظریات، وړاندیزونه او غوښتنې د کمېټې غونډو ته وړاندې کړي.

استازي د فرهنګي برنامو، هنري ننداریتونونو، ادبي غونډو، دودیزو مراسمو او ټولنیزو فعالیتونو په جوړولو او تنظیم کې مهم رول لري. دوی د محصـــلینو د فرهنګي پوهاوي لوړولو، د ټولنې سره د پوهنتون د تړاو پیاوړتیا، او د محصـــلینو د خلاقیت او استعدادونو د ودې لپاره کار کوي.

د فرهنګي چارو کمېټه هڅه کوي چې د مختلفو فرهنګي شـــالیدونو درناوی وکړي او یو ټولشـــموله، متنوع او فعال فرهنګي چاپېریال رامنځته کړي چې د محصلینو ټولنیز، فکري او هنري ژوند غني کړي.

**۴: د پوهنځیو په کچه د فارغانو شبکه کې استازیتوب:**

د پوهنځیو په کچه د فارغانو شــبکه د یو منظم بنســـټ په توګه د فارغانو د اړیکو د پراختیا، همکارۍ، او مســـلکي ملاتړ لپاره جوړه شــوې ده. په دې شــبکه کې د هر پوهنځیځخه فارغ محصـــلین اســـتازي ټاکل کیږي ترڅو د خپل پوهنځي فارغانو په نمایندهګۍ د شبکې په فعالیتونو کې ګډون وکړي او د هغوی غږ د پوهنتون له ادارې او نورو برخو سره شریک کړي.

اســـتازي به د فارغانو د اړتیاوو، ســـتونزو، او وړاندیزونو په راټولولو، تحلیل او وړاندې کولو کې فعاله ونډه ولري. همدارنګه، دوی به د فارغانو ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا، د مســـلکي پرمختګ فرصـــتونو رامنځته کول، او د پوهنتون د پرمختګ لپاره د فارغانو د تجربو شریکولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

دا شبکه به د فارغانو د ټولنیز ملاتړ، علمي او مسلکي ودې لپاره مناسب چاپېریال برابر کړي او مسلکي روزه نیزو برنامو کې به د ګډون بلنه ورکوي.

**۵: د پوهنځي په کچه د محصلانو کمېټه کې استازیتوب**

د هر پوهنځي د محصلانو کمېټه د محصلینو د ستونزو د حل، نظریاتو د وړاندې کولو او د تحصیلي، فرهنګي او ټولنیزو فعالیتونو د همغږۍ لپاره یو مهم بنسټ دی. په دې کمېټه کې د هر ټولګي څخه یو تن محصل د استازي په توګه ټاکل کېږي ترڅو د خپلو ټولګیوالو غږ د کمېټې په غونډو کې په مؤثره توګه وړاندې کړي.

استازي د خپلو ټولګیو محصلینو د غوښتنو، اندېښنو او وړاندیزونو راټولونه کوي، د کمېټې غونډو ته یې وړاندې کوي او د حل لپاره د پوهنتون اړوند ادارو سره همغږي کوي. په دې توګه، دا استازي د پوهنځي د محصلانو او پوهنتون ادارې ترمنځ د اړیکو مهم پل دي او د تحصیلي چاپېریال د ښه والي لپاره فعاله ونډه لري.

**٦: ستراتیژیک پلان کمېټه کې استازیتوب:**

پوهنتون به برحاله محصلین د پوهنتون او پوهنځیو په ستراتیژیک پلانونو جوړولو کې شاملوي ترڅو د محصلینو نظرونه او وړاندیزونو په اساس داسې ستراتیژیک پلانونه ترتیب شي چې د لوړو زده کړو وزارت معیارونه تکمیل شي.

# درېیم فصل( د فارغو محصلینو د حقوقو ملاتړ)

**د فارغانو د حقوقو څرنګوالی**

تابش پوهنتون د خپلو برحاله محصلینو د حقوق تر څنګ د فارغو محصلینو د لاس نیوي او ملاتړ په موخه د اړینو اجرا تو لپاره ژمنتیا لري. په دې لړ کې فارغو محصلینو ته لاندي ذکر شوي خدمات تر سره کیدای شي.

**۱: د کار موندنې یا نورو لوړو زده کړو لپاره د ځانګړو مکتوبونو او تصدیقونو ورکول.**

هغه محصلین چې غواړي په هیواد دننه او یا هم له هیواده بهر نورې لوړې زده کړې وکړي او د اړوند دیپارتمنت استاد یا استادانو سپارښتنلیکونو ته اړتیا ولري، د رسمي عریضي له لاري کولی شي اړوند استاد یا استادان د محصل د سوانحو او سوابقو پر اساس دوی ته سپارښتنلیک (Recommendation Letter) ورکړي.
اقتصاد پوهنځي محصلین کولی شي چې د انګلیسي ژبې د زده کړې سند ( Language Proficiency Certificate) غوښتنه وکړي. د شرعیات پوهنځي محصلین کولی شي د عربي ژبې د زده کړې تصدیق پاڼه تر لاسه کړي.
د حقوق، کمپیوټرساینس او ژورنالیزم پوهنځیو محصلینو لپاره د بهرنیو ژبو زده کړې هغه وخت تائیدیږي چې دوی محصلاتو مدیریت ته د یادو ژبو د زده کړې باوري اسناد وړاندي کړي.
بهرنی اداري چې کله د محصل لاربنود استاد یا د پوهنتون اداري څخه د محصل د فراغت یا نورو ځانګړنو په هکله د (Reference Check) یا (Degree Verification) په هکله پوښتنه کوي، یادې اداري ته به د اړوند مرجع لخوا د حقایقو په رڼا کې په خپل وخت ځواب ورکول کیږي.

**۲: بهرنیو ادارو ته د محصل په هکله معلومات ورکول**

هر کله چې فارغ محصلین د بهرنیو ادارو لخوا د کار موندنې یا لوړو زده کړو په موخه اړوند مراجعه کوي او یادې اداري د تابش پوهنتون څخه د محصل په اړه معلومات وغواړي، د محصلانو مدیریت مکلف دی چې د محصل د سوانحو او سوابقو پر بنسټ اړوند معلومات یادو ادارو ته برابر کړي. دغه معلومات اکثره وخت د استعلام یا بریښنالیک (ایمیل) له لارې غوښتل .کیږي، چې تابش پوهنتون پکې هیڅ ډول ځنډ نه کوي او په خپل وخت لازم معلومات وړاندې کوي

**۳: د کارموندنې په صورت کې محصلین خبرول:**

د تابش پوهنتون د محصلانو معاونیت، د کارموندنې مرکز او اړوندې برخې، د کاري فرصتونو د شتون په صورت کې، د اړوند دیپارتمنټونو فارغینو ته خبرتیاوې ورکوي، ترڅو هغوی وکولی شي له یادو فرصتونو څخه ګټه پورته کړي. هغه اداري چې تابش پوهنتون ته په رسمي توګه د کاري فرصتونو معلومات ورکوي، د فارغانو مدیریت له خوا به شرایطو ته برابر فارغان خبر شي، څو اړوندې اداري ته مراجعه وکړي.

**۴ : محصلینو ته په لنډ مهاله روزنیزو برنامو کې د ګډون اجازه ورکول**

د تابش پوهنتون د ټولو پوهنځیو فارغ محصلین کولی شي چې د پوهنتون څخه بهر په اړوندو ادارو کې د عملي کار د غوښتې پرته د پوهنتون په داخل کې په عملي کارونو او روزنیزو برنامو کې د ګډون غوښته وکړي. د پوهنتون ټولي اسانتیاوې په کوم وخت کې چې برحاله محصلینو ته په اختیار کې ورکول کیږي، فارغانو محصلینو ته به هم وړاندې کیږی.

**۵: فارغو محصلینو ته مشورې ورکول**

تابش پوهنتون به د اړوندو ادارو سره په ګډه د هر دیپارتمنت محصلینو ته په چلا چلا ډول د کاري راتلونکي په هکله معلوماتي سمینارونه وړاندې کوي، په یادو معلوماتي سمینارونو کې به د اتم سمستر محصلینو د دندو تر لاسه کولو په لارو چارو تفصیلي معلومات وړاندې کیږي لکه:

1. د مطالعې مؤثرې لارې چارې او د زده‌کړې کیفیت لوړولو لپاره مشورې؛
2. د اغېزناکو زده‌کړو په اړه لارښوونې؛
3. زده‌کړیز فعالیتونه او د هغو اغېزې؛

4. د کاري مهال‌ویشونو ترتیب او مدیریت؛
5. د شخصیت جوړونې او ځان اصلاح لپاره لازمې مشورې؛
6. د فکري روزنې او فکر ترتیب اصول؛
7. ټولنیز آداب، کاري اړتیاوې، د اداري واحدونو سره د شخړو مدیریت، رواني درملنه، او نور اړوند موضوعات.

دغو ټولو برخو کې به محصلینو ته د پوهې، مهارتونو، او عملي تجربو د لوړولو لپاره ګټورې مشورې، سیمینارونه، او ورکشاپونه وړاندې کېږي، ترڅو هغوی په شخصي او مسلکي ژوند کې بریالي واقع شي.

---

**تائیدي او تصویب:**

پورتنۍ د محصلانو د حقوقو، استازیتوب او ګډون پالیسي دپوهنتون په علمي شورا په (۲۹/۷/۱۴۰۴) نېټه غونډه کې له هر اخیز بحث وروسته په (۷) ګڼه پروتوکول کې تائید او د پلي کیدا وړ ده.

د علمي شورا منشي | د علمي شورا مشر